ÉVALUATION DIAGNOSTIQUE DES ÉLÈVES ALLOPHONES

# Compréhension de l'écrit

CYCLE 3

Langue d'origine : pachto

CANOPÉ

| نوم: | تخلص: |
|---|---|

NIVEAU : FIN DE CM1

## 1
## لاندې متن ولوله.

سميع، چې يو ځوان هلک دی، په لومړي ځل خپل نوي مکتب ته ځي.

سميع په لاره کې کرار کرار له خوبه راووځي. په حقيقت کې هغه ښه خوب نه و کړی.

هغه يو ډاروونکی خوب ليدلی و. هغه په خوب کې ليدلي وو چې د شاګردانو بدنونه د ماشومانو او سرونه د مرغو وو. معلمه بيا برعکس وه، د هغې مخ د انسان و چې ناوړه ښکارېدو او بدن يې د يوې ببخي غتې باښې په څېر و.

هغه بيا د خپل کلي په اړه فکر وکړ، چې Labacie کې دی. د هغه انديوالان به بې له شکه چې هلته ببرته خپل کوچني مکتب ته ځي. هغه ته د ښنتو ديوالونه، د خاورو فرش او د انګړ په مينځ کې کوهی رايادېږي. د تفريح په وخت کې به هغوی د هغې غتې ونې سيوري ته کېناستل خوښول کومه چې انګړ ته د ننوتلو پر مهال د کوهي چپ لاس ته په نظر راتلله.

خپل نوي مکتب ته د تللو لپاره سميع اول د کور نه ښي لاس ته ووځي او بيا د ونو سره سم ځي او د هغې نه وروسته چپ لاس ته په لومړی کوڅه ورځي. په اخره کې بيا نبغ ځي. مکتب همدغې کوڅه کې پارک ته ببخي مخامخ دی.

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

# پوښتنې ځواب کړه

## 2

**د صحیح ځواب نه کرښه تاو کړه. دا متن یو/ه:**

• شعر دی • لاربنود دی • نسخه ده • کیسه ده

MI MF MS TBM

## 3

**د صحیح ځواب نه کرښه تاو کړه. ستا په نظر، د سمیع ډاروونکی خوب:**

• خوشحالوونکی دی • سپورټي دی • ډاډ ورکوونکی دی • تشویشوونکی دی

MI MF MS TBM

## 4

**په Labacie کې د سمیع د مکتب د رسم نه کرښه تاو کړه او نور چلیپا کړه.**






MI MF MS TBM

## 5

**په نقشه کې هغه لاره په نښه کړه چې سميع پرې بايد مکتب ته د تللو لپاره لاړ شي.**

**د روانېدو ځای د سميع کور دی چې په هغې د چليپا نښه شوې ده.**



MI | MF | MS | TBM

## لاندې متن ولوله.

خو نن سهار هغه لاره نه پېژني. ایا دا ونه پرون دغلته وه؟

سمیع ځان سره وایي چې حافظه یې ورته دوکه ورکوي. یو عجیبه احساس یې نه پرېږدي او د ډارونکي خوب انځورونه یې بېرته مخې مخې ته کېږي.

ناڅاپه یو نرۍ یخ شمال لګېدل شروع کېږي او هغه خپله خولۍ چې پلار یې ورکړې وه په خپل سر کېمندي. دا ورته سمدستي اطمینان ورکوي.

د مکتب مخې ته په رسېدلو سمیع ناڅاپه ودرېږي. اسمان په وریځو پټ دی، او د باران نري نري څاڅکي راغورځېدل شروع شوي. هغه له نور انتظار غیر مکتب ته داخل شو.

هغه بیا د لوبو میدان پیدا کړ چې د هغه میدان نه چې هغه په Labacie کې پېژندلو ډېر بل شان و. هغه نه پوهېږي چې چېرته لاړ شي. نو هغه هغه تقسیم اوقات رااخلي چې کله نوم لیکني ته راغلی و او ورکړل شوی و خو هغه ورسره ډېر کومک نه کوي. هغه په هیڅ نه پوهېږي!

### تقسیم اوقات: الف صنف

| | دوشنبه | سه شنبه | چارشنبه | پنجشنبه | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|
| 8 بجې | لوست | | | | لوست |
| 9 بجې | تاریخ | ریاضي | ریاضي | سپورټ | جغرافیه |
| 10 بجې | جغرافیه | ساینس | ژوندۍ ژبه | سپورټ | ګرامر |
| 11 بجې | ژوندۍ ژبه | ژوندۍ ژبه | | سپورټ | تاریخ |
| 13 بجې | ساینس | ګرامر | | لوست | ژوندۍ ژبه |
| 14 بجې | موسیقي | ادبیات | | ریاضي | ریاضي |
| 15 بجې | | | | تاریخ | |

NIVEAU : FIN DE CM2

## د صحيح ځواب نه کرښه تاو کړه

**6**

### کومه فقره پوښتنه ده؟

- يخ شمال لګيږي
- ايا دغه ونه پرون دغلته وه؟
- يو عجيب احساس هغه نه پرېږدي.
- هغه په هيڅ نه پوهيږي.

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

**7**

### په دې متن کې موسم څنګه دی؟ توجو، ته بايد د يو څو ځوابونو نه کرښه تاو کړې.

- وريځې
- تود شمال
- يخ شمال
- لمر
- تېز باران
- شين اسمان
- نرى باران

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 8

## سمیع ولې د خپل تقسیم اوقات نه بهر دی؟

• ځکه چې د هغه رياضي خوښيږي.

• ځکه چې باران شروع شو.

• ځکه چې هغه د معلوماتو په لټون دی.

• ځکه چې د پنجشنبې په ورځ سپورټ دی.

MI | MF | MS | TBM

## 9

## د ټولو نه زيات سميع خپله ورځ په څو بجې شروع کوي؟

• په لس بجې • په نهه بجې • په اته بجې

MI | MF | MS | TBM

## 10

## په کومو ورځو سميع د تاريخ درس نلري؟

• سه شنبه او چارشنبه

• دوشنبه او پنجشنبه

• دوشنبه او جمعه

• چارشنبه او پنجشنبه

MI | MF | MS | TBM

## لاندې متن ولوله

یو ناڅاپي توپان راځي. سمیع لږ څه کې د هغو غټو څاڅکو نه ځان بچ کوي چې اوس په انګړ کې راغورځیږي. د لوبو د میدان لاندې ماشومان وارخطا شوي دي او باران نه د ځان ایستلو لپاره دیکې وهي. هغه ته دا د چرګانو فارم ښکاري او د هغه ډاروونکي خوب انځورونه یې مخې ته کیږي چې تیره ورځ یې لیدلی و.

هر څوک د ځان د بچ کولو کوښښ کوي. ناڅاپه یو هلک هغه ته ورځي. هغه سمیع سره خبرې کوي او د هغه خولۍ ته په اشاره کولو څه وایي خو سمیع یې په خبره نه پوهیږي. هغه داسې ښځګه کولی شي؟ هغه په تاکوني، چې د هغه د نوي هیواد ژبه ده، خبرې نه کوي. هلک حوصله له لاسه ورکوي او ځي، ښکاري چې غوصه دی.

په داسې حال کې چې هغه د اوښکو د ټینګولو کوښښ کوي، د سمیع نظر په یو بل هلک پرېوځي چې شین کمیس یې اغوستی دی. په تېزۍ سره د تللو نه مخکې هغه په انګړ کې یوې لوحې ته اشاره کوي چې چلیپا کړې خولۍ پرې انځور شوې ده. نو سمیع پوهیږي چې خولۍ په دې مکتب کې منع دي.

بالاخر زنګ غږول کیږي او معلمه د خپلو شاګردانو د بوتللو لپاره راځي، د هغې نظر سخت دی، د هغې پوزه اوږده او نوک داره ده. هغې یوه توره غټه خولۍ په سر کړې ده چې د سترو وزرونو په څېر ښکاري. دا د باور وړ نده: دا د سمیع د خوب د باښې په څېر ښکاري.

صنف ته په ننوتلو سره معلمه سمدستي شاګردانو نه غوښتنه کوي چې تقسیم اوقاتونه په خپلو کتابچو کې کیږدي. نورو شاګردانو ته په کتلو هغه پوهیږي چې څه وکړي، خو د هغه لپاره هر څه یو څه عجیبهدي.

په دغې وخت کې معلمه د هغه څنګ ته ودریږي. یو لاس د هغه په اوږه ږدي او نور صنف ته یې ورمعرفي کوي. سمیع ارامیږي او کراریږي. هغه د هغې په ټولو خبرو نه پوهیږي. خو هغه خپل ځان پرېږدي چې د هغې د غږ په زمزمه او تودوالي کې یوړل شي. د هغه نوي ملګري هغه ته اوس په علاقمندۍ سره ګوري او په هغوی کې هغه د شین کمیس والا هلک ورته خاندي. د لمر یوه وړانګه د سمیع په اننګي لوبې کوي. دا د هغه د مکتب اوله ورځ ده ا

NIVEAU : FIN DE 6E

## پوښتنې ځواب کړه

### 11

**د صحيح ځواب نه کرښه تاو کړه. په 2مه فقره کې، نور ماشومان څنګه دي:**

- معلومه راته نده
- خوش خويه دي
- خوش خويه ندي

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

### 12

**فقرې ته د کيسې په ترتيب لمبرې ورکړه، د اولنۍ پيښې نه نيولې تر اخرې پيښې پورې په دغه ترتيب.**

- يو هلک هغه ته ورځي. .....................
- ماشومان ديکې وهي. .....................
- سميع يو ډارووونکى خوب ليدلى و. .....................
- يو توپان شروع کيږي. .....................

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 13

**ایا معلمه یوه باښه ده؟ د صحیح ځواب نه کرښه تاو کړه.**

- معلومه راته نده
- هو
- نه

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 14

**د سمیع د احساساتو ربط د متن د برخو سره وکړئ. توجو، تولې برخې باید وکارول شي.**

| | |
|---|---|
| | ماشومان هغه ته په علاقمندۍ سره ګوري |
| کله چې سمیع په تشویش کې دی | ماشومان ترې ډډه کوي |
| | یو توپان شروع کیږي |
| | هغه ارامیږي |
| | هغه ارامیږي |
| کله چې سمیع مطمین دی | لمر راښکاره کیږي |

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 15

**د اخري پراګراف نښې مشاهده کړه. ستا په نظر کې، دا کیسه به نوره وړاندې څنګه پر مخ ځي؟ د صحیح ځواب نه کرښه تاو کړه.**

- سمیع به غټ مشکلات ولري.
- معلمه به د سمیع پاملرنه ونکړي.
- سمیع به اموخته شي او دا به قبول کړي.
- د شین کمیس والا هلک به د هغه دښمن شي.

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

**Rappel des codes de correction :**
**MI** = maîtrise insuffisante **MF** = maîtrise fragile **MS** = maîtrise satisfaisante **TBM** = très bonne maîtrise
**MI et MF :** non acquis **MS et TBM :** on considère que c'est acquis